


# د ایشیاء د زړۀ کانفرنس

په نهم ۹ دسمبر اسلام آباد کښې د هارټ آف ایشیاء کانفرنس په نوم یو کانفرنس وشو. د کانفرنس مقصد افغانستان کښې د امن او صلح د



قیام دپاره لارې چارې لټول وو. د دې سلسلې ړومبے کانفرنس په اول ځل په کال ۲۰۱۱ کښې د ترکۍ په ښار استنبول کښې شوے ؤ. دې کانفرنس ته نوم د علامه محمد اقبال د فارسۍ د یو شعر د خیال په بنیاد ورکړے شوے ؤ. شعر کښې علامه اقبال د خپلې مطالعې،مشاهدې او تجربې په اساس دا خیال څرګند کړے دے چې ایشیاء د اوبو او خاورې یو وجود دے او افغان ملت د دې وجود زړۀ دے که چرې دا زړۀ په قلاره وي نو ټوله ایشیاء کښې به قلارې وي او که چرې دا زړۀ بې قراره وي نو ټوله ایشیاء به بې قراره وي.

د استنبول د کانفرنس نه پس دا کانفرنسونه په الماتې،بیجنګ او کابل کښې جوړ

شوي وو او د اسلام آباد کانفرنس د دې لړۍ پینځم کانفرنس ؤ شپږم کانفرنس به په نوي ډیلي کښې د ۲۰۱۲ آخري درې میاشتو کښې کېږي.

د اسلام آباد کانفرنس کښې د لسو ممبر هېوادونو د خارجه وزیرانو نه علاوه د ۲۷ نورو ملکونو او د دولس عالمي تنظیمونو نمائندګانو ګډون کړے دے. په دې لحاظ دې کانفرنس ته په علاقائي او نړي وال کچ ډېر اهمیت حاصل دے. په اصل کښې دا کانفرنس د وزارتي کچ کانفرنس ؤ ولې د پاکستان وزیراعظم میا محمد نوازشریف او د افغانستان اولسمشر ډاکټر اشرف غني دې کانفرنس کښې په خصوصي بلنه شرکت وکړو. دواړو سر مشرانو د کانفرنس افتتاح په شریکه وکړه. دې نه پس د افغانستان د خارجه چارو وزیر صلاح الدین رباني او د پاکستان د وزیراعظم د خارجه چارو صلاح کار سرتاج عزیز په ګډه د کانفرنس صدارت وکړو.

کومو نومړو ملکونو چې کانفرنس کښې ګډون کړے دے هغو کښې د چین،بهارت، سعودي عربستان،متحده عرب امارتونو، ایران، ازربائیجان، او پاکستان خارجه وزیران د خصوصي ذکر وړ دي.

پاکستان ته د ډاکټر اشرف غني او د هند د خارجه وزیرې سُشما سوراج راتګ په دې لحاظ د زیات اهمیت وړ وګرځېدو چې د کانفرنس د کېدو نه تر څو ورځې مخکښې پورې دې دواړو هېوادونو سره د پاکستان تعلقات ښه نهٔ شو ګڼلے کېدے ولې دې دواړو هېوادونو کانفرنس ته زیات اهمیت وړ ګرځولو دپاره کانفرنس کښې ګډون کول ضروري وګڼل. افغانستان کښې ځینې قوتونو د ډاکټر اشرف غني کانفرنس کښې ګډون غیر ضروري ګڼلو ولې هغه د هیڅ قسم دباؤ نه بغېر کانفرنس کښې شریک شو ځکه چې دا کانفرنس که په پاکستان کښې ؤ نو مقصد ئې افغانستان کښې امن دپاره لاره هوارول وو.

د دې کانفرنس د شروع کېدو نه مخکښې د پاکستان د پښتنو سیاسي مشرانو یوه جرګه کابل ته تلې وه او هلته ئې د ډاکټر اشرف غني په شمول د افغانستان نورو مشرانو سره په دې خاطر لیدهٔ کاتهٔ کړي وو چې د پاکستان او افغانستان ترمېنځه کوم تاؤتریخوالے راپېدا شوے دے دا سوړ کړي او داسې حالات پېدا شي چې په نتیجه کښې ئې په سیمه کښې امن او صلح یقیني شي. شاید چې د ډاکټر اشرف غني د پاکستان دوره د دغه پښتنو سیاسي مشرانو د کوششونو نتیجه وي.

کانفرنس چونکې په بنیادي توګه د وزارتي کچ ؤ ولې د اشرف غني د پاکستان سفر د پاکستان او افغانستان ترمېنځه په اړیکو مثبت اثرات واچول. ډاکټر اشرف غني د کانفرنس نه علاوه په نورو سطحو هم ملاقاتونه وکړل چې د ګټورو نتیجو سبب جوړیدے شي. که چرې د ځینې قوتونو د خوا ور ته په لاره کښې خنډان پېدا نه کړے شول. دې لړ کښې نه صرف ډاکټر اشرف غني د پاکستان وزیراعظم او د فوځ سرلښکر جنرال راحیل شریف سره جدا جدا ملاقاتونه وکړل. بلکې د چین،امریکې،پاکستان او افغانستان ترمېنځه یوه غونډه هم وشوه. چې

مـقـصـد ئې افغانستان کښې امن او د افغانستان موجوده حکومت سره لاس امداد کول وو.

هارټ آف ايشياء کانفرنس ته د پاکستان د وزيـراعـظـم ميـــا مـحـمـد نـوازشريف تقرير د خصوصي اهميت وړ دے ځکه چې دې تقرير کښې افـغـانستان ته يو ډاډ ورکړے شوے دے او ورسره ورســره نړي والې وروړلی. تــه دا يـقـيـن ورکړے شـوے دے چې پــاکســتـــان د افـغـانسـتـــان موجوده حکومت د يو آئيني،قانوني او جمهوري حکومت په تـوګـه پـه رسميت پيژني او دا حکومت د افغانستان نـمـائـنـده حـکـومـت ګڼي. ميـا محمد نوازشريف افـغـانسـتـــان تــه دا ډاډ هم ورکړو چې د افغانستان دښـمـن د پـاکسـتـان دښـمن او د پاکستان دښمن د افـغـانسـتـــان دښــمــن دے. ډاکټر اشرف غني هم د تـرهګـرۍ خلاف د پاکستان قربانۍ وستائيلې او پـه لـکـونـو افـغـانانو ته د پناه ورکولو دپاره ئې د پاکستان مننه وکړه.

د دواړو مشـرانو بيانونه که په عمل کښې راغـلـې نـو دې سـره افغانستان او پاکستان دواړو کښې پــه څو هفتو کښې د امن آغاز کېدے شي او پــه دوه درې کالو کښې په ټوله سيمه کښې د دوام داره امـن قيـام يـقـيـنـي کېدے شي. د هارټ آف ايشيـاء د وزارتـي کـانـفـرنـس په اختتام کښې د کـانـفـرنـس لـه خـوا يوه اعلانيه جاري شوه. دې اعلانيه کښې لاندينۍ نکتې شاملې دي.

۱: مـمـبـر مـلـکـونه دې په سيمه کښې د امن دپاره ترهګرو سره مالي مرستې بندې کړي.

۲: د افــغـــانسـتـــان د حـکـومـت د خپــل واکۍ او سلامتيا احترام به کېږي.

۳: پاکستان او افغانستان دې په يو بل د ترهګرۍ د الزامونو نه لاس واخلي.

۴: د منشياتو د سمګلنګ دې په هر صورت کښې لاره ونيولے شي.

۵: تـجـارتي او اقتصادي رابطو ته به وده ورکولے شي.

۶: د القاعده او داعش خلاف به جهاد کولے شي.

۷: د افـغـان طـالـبـانـو او نـورو قـوتونو سره بـه د افغانستان حکومت خبرې او مذاکرات کوي.

کـه د دې ټولو نکتو جاج واخستے شي نو دا حقيقت به راڅرګند شي چې دا نکتې ځکه مخې تـه راغـلـې دي چې د افـغـانستان اصلي مسائل هم دغـه دي. کـومې غوښتنې چې په دې نکتو کښې شـوې دي دا غوښتنې به څوک پوره کوي او کومه تګـلاره چې متـعـيـن شوې ده په دې لاره به څوک ځـي؟ ظاهره ده چې دا غوښتنې به هله پوره کېږي چې مـمـبـر ملکونه په خپله دا غوښتنې پوره کړي او چې کـوم مـلـکـونه په دې عمل نه کوي يا د دې غـوښتـنـو د عملي کولو په لار کښې خنډان اچوي نـو د هـغـوي سره به ممبر ملکونه څه لاره کوي؟ د دې دپـاره څه مکينزم په دغه مطالبو کښې په نظر نۀ راځي.

بـلـه دا چې کومې مطالبې شوې دي په دې د عــمــل کـولو دپاره څه کارنده کميټي نه ده مقرر شـوې او نـه د هغې کميټۍ د اختياراتو څه حدونه مـخې ته راغلې دي. کوم نکات چې په ګوته شوې دي دا بـنيـادي مسئلې دي. يعنې مسئلې په ګوته شـوې دي او د دې د هـوارولـو دپـاره تجويزونه هم وړانـدې شـوې دي خـو د عـمـلـي کولو دپـاره څـه

طریقه کار نه ښکاري.

د افغانستان د خواوشا د مسئلو تعلق تر ډېره حده د پاکستان او افغانستان دوه اړخیزه تعلقاتو سره هم دے که چرې دواړه هېوادونه دوه په دوه کیني او په خپلو کښې د مسئلو د حل کولو دپاره لاره هواره کړي او عملي ګامونه واخلي نو دواړو هېوادونو کښې امن راتلے شي. د دې حقیقت نه سترګې نه دي پټول پکار چې پاکستان او افغانستان د یو قسم صورت حال سره مخ دي. که دواړه هېوادونه په دې د زړۀ د اخلاصه اتفاق وکړي چې دواړه به په خپله خپله زمکه حالات سموي او دې لړ کښې به د یو بل سره مرسته ملګرتیا کولو نه هیڅ قسم ډډه نه کوي. پاکستان کښې چې په کوم قومي ایکشن پلان باندې اتفاق شوے دے په دې که د پاکستان څلور واړه صوبې او وفاق عمل وکړي او هم دغه شان پلان افغانستان کښې هم جوړ شي او دواړه هېوادونه د دغسې پلانونو عملي کولو په لړ کښې خپلو کښې مرسته ملګرتیا وکړي نو د افغانستان او پاکستان په داخل کښې هم امن قائمیدے شي او د دواړه هېوادونو تعلقات هم په سمه لاره په مخ تللے شي. که داسې وشي نو د بین الاقوامي کانفرنسونو ضرورت به پاتې نه شي. د پاکستان او افغانستان حکومتونه چې د خپل خپل هېواد دپاره څه څه خوښوي باید چې د یو بل دپاره هم هغه خوښ کړي.

# د اسفندیارولي خان د کابل سفر

د دسمبر اخري لسیزه په دې لحاظ د اهمیت وړ ده چې دې دوران کښې د پښتنو مشرانو په یو ځائې د کابل دوره وکړه. دوي ته د دې دورې بلنه د افغانستان حکومت ورکړې وه. دې مشرانو کښې د محترم اسفندیارولي خان نه علاوه محترم محمود خان اچکزے او ښاغلے آفتاب احمد خان شیرپاو هم شامل ؤ. ښاغلے افراسیاب خټک د محترم اسفندیارولي خان ملګرے ؤ.

د کابل د سفر شروع کولو نه مخکښې اسفندیارولي خان د وزیراعظم میا محمد نوازشریف سره لیدۀ کاتۀ وکړل. د دې دورې مقصد هغه تاوتریخوالے کمول وو کوم چې د څه وخت راهسې د افغانستان او پاکستان ترمېنځه پېدا شوے دے. هر څومره که ړومبے قدم د افغانستان اولسمشر ډاکټر اشرف غني اخستے دے ولې دغه پښتنو مشرانو ته د پاکستان د وزیراعظم میا محمد نوازشریف مرسته هم حاصله وه. دې کرښو کښې څو څو ځله د دې حقیقت څرګندونه شوې ده چې پښتانه مشران په خصوصي توګه د عوامي نیشنل پارټۍ مشران د افغانستان او پاکستان ترمېنځه د یو پُل کردار ادا کولے شي او دا ځکه چې پښتانه ټول په حیثیت د یو قوم د افغانستان د حالاتو نه لاتعلقه نه شي پاتې کېدے. که افغانستان کښې ښه حالات وي

نو په پښتنو د ټولو نه اول د دې ښه اثرات پريوځي او کـه هلته حالات بد وي نو د پښتنو په لاره به په ټول پاکستان د دې بد اثر پريوځي.

بله دا چې پښتانه د افغانستان په ښه او بد د ټـولـو نـــه ښـــه پوهېږي. کـه چرې د پـاکسـتـان حـکـومت د افغانستان په حق له تګ لاره خپلوي بـايـد چې دې کښې د پښتنو رائې شامله وي ګني دې لړ کښې به هر قسم پاليسي د ناکامۍ سره مخ کېږي.

د پښتـنـو مشرانو دغه دورې ته په مثبت نـظـر کتـل پـکار دي. د خپلې دورې دوران کښې دغـه مشـرانـو نـه صـرف د افـغـانستان اولسمشر ډاکټر اشرف غـنـي سره وليدل او د افغانستان او پاکستان په تعلقاتو ئې ورسره د فکر تبادله وکړه بـلـکې د افـغـانستان حکومت کښې شاملو نورو مشـــرانـو ســره ئې هـم مـلاقـــاتونـه وشول. دې مـلاقـاتـونـو کښې د ډاکټر عبدالله عبدالله سره مـلاقـــات د ډېر اهـميت وړ دے. د افغـانسـتـان د مـخکيني رئيس جمهور ښاغلي حامد کرزي سره د پښتـنو مشرانو ملاقاتونه هم ګټور دي ځکه چې حـــامـد کــرزي چې پـــه کـومـو شـرايطو کښې د افغانستان د حکومت او مملکت واګې خپلو لاسو کښې اخستې وې او دۀ د کومو حالاتو مقابله کړې ده دا د دۀ د سياسي ژوند د تاريخ يو داسې باب دے چې په ژوره مشاهده او عملي تجربو اساس لري.

زمـا په خيال پښتانه مشران چې په کومه جـذبه کابل ته تلي وو او کوم پېغام ئې د ځان سره وړے ۀ او بيـا ئې کوم پېغام ځان سره راوړے ۀ. د هغې ګټورې نتيجې مخې ته راغلې دي. که چرې دې مشـرانـو د افـغـانسـتـان سفر نـه وے کړے نو اسـلام آبـاد کښې هـارټ آف ايشياء کانفرنس به شـايـد چې دومره کاميابي نه وه حاصله کړې او نه بـه تـرکـمانستان کښې د ټاپي ګيس پائپ لائن په مـنـصـوبـه کـار شـروع شـوے ۀ. او نه به د جنرل راحيل شريف کابل ته دوره ممکن شوې وه.

بـايـد چې پښتانه مشران هم دا حقيقت تر نـظـره وسـاتـي چې خپـلو ملي مفاداتو او ملي يو والـي پـه خـاطر به په يو ځائې کيناستو ته ترجيح ورکړي او خپـلـو کښې د پښتـنـو د اقتـصـادي او سيـاسـي مـفـاداتـو د ساتنې دپاره يو موقف خپل کړي او د يـو بل سره وخت په وخت د فکر تباله يو روان عمل وګني.

د پښتـنـو سياسي مشرانو دا هم ذمه واري ده چې د پـاکسـتـان سيـاسـي مشران د افغانستان د داخـلـي حـــالاتـو نـه خبـر کړي او د پـاکسـتـان او افغانستان د تعلقاتو په اهميت ئې هم پوهې کړي. ځـکـه چې د پاکستان سياستدانان د افغانستان په حق له تل په هوا کښې غشي اولي.

## ټاپي ګيس پائپ لائن

د تـرکـمـانستان ,,ميـری ستي،، کښې د تـرکمانستان د دولت آباد ګيس فيلډ نه افغانستان، پـاکستـان او هـنـد ته د ګيس پائپ لائن د غزولو د مـنـصـوبې بنياد د دسمبر په ديارلسمه نېټه د ذکر

شـوي مـلکونو سر مشرانو په شريکه کيښودو. د لـس اربه ډالرو په خرچ ۱۷۳۵ کلوميټر او د پائپ لائـن د بنياد کيښودو دستوره کښې د ترکمنستان صدر قربان علي محمدوف، د پاکستان وزيراعظم ميـا مـحمد نوازشريف، د افغانستان صدر ډاکټر اشرف غـنـي او د هـنـدوسـتـان نـائـب صدر حامد انصـاري ګډون وکړو. دا مـنصوبـه چې پـه کـال ۲۰۱۸ کښې بـــه سـرتــه ورسـي. د دې نـــه بـــه افغانستان، پاکستان او هند ته تر ۳۰ ارب مکعب ميټر ګيس هـر کال ورکړے کېدے شي. دا پائپ لائـن به د ترکمنستان دولت آباد نه د افغانستان د هـرات، کندهار او د پاکستان د کويټې او ملتان په لاره هند ته رسولے شي.

دا مـنـصـوبـه په ظاهره خو يوه اقتصادي مـنـصوبه ده او په نتيجه کښې به ئې د پاکستان د ګيس په کموت تر څه حده قابو وموندے شي چې د پاکستان د صنعتونو ضرورت پوره کولو کښې به يـو کـردار ادا کړي. دغـه فائده تر هند هم وچتولے شـي. افغانستان به ترې هم دوه اربه مکعب ميټر ګـيـس اخـلـي چې دې جـنـګ ځپلي هېواد ته به تر قدرتي توان په لاس راشي.

دې مـنصوبې سرته رسولو دپاره د څلورو واړو ذکـر شـوي هېـوادونـو د څـلـورو کمپنيو يو کـنـسـورشـيـم جوړ شوے دے چې د ترکمانستان د يـو حکومتي کمپنۍ برخه پکښې ۵۱ فيصده ده. دې منصوبې ته د ټاپي(TAPI) نوم د څلورو واړو ملکونو د سر د الفاظو په بنياد ورکړے شوے دے.

د ټـاپـي ګـيـس پـائـپ لائـن اقتصادي فوائد خو په خپـل ځـائې جوت دي ولې د دې اثرات به د سيمې په سياست هم مثبت وي ځکه چې د اقتصادياتو او سيـاسيـاسـتـو تـعـلق يو بل سره د غاښ او اورۍ دے. پـه دې مـنـصـوبـه د کـار شروع کولو نه څو ورځې مـخـکښې د متـعـلـقـه مـلکونو ترمېنځه تـاوتـريـخـوالے د مخکښې نه زيات شوے ؤ ولې ناڅاپي د هند او پاکستان او افغانستان ترمېنځه د خبرو جنګ تر څه حده سوړ شو او په نتيجه کښې ئې پـه دې اهـمې اقتـصـادي منصوبې د کار آغاز مـمـکـن شـو. دې مـنصوبې ذکر شوي څلور واړه مـلـکـونه په اقتصادي مزي وتړل اوس که دا مزے څـوک شـلـول غـواړي نـو د دې مزاحمت به د هغه هېـواد اولس کوي د کوم هېواد مشران چې دا مزے شلول غواړي.

څـوک چې د اقتـصـادي مـفـاداتو په مزي خپـلـو کښې وتړلے شي دغه تړون شلول ډېر ګران کـار دے. کـه ګـيـس د تـرکمانستان دے نو لاره د افـغـانـسـتــان او پاکستان ده. هند به کله هم په دې حـقـيـقـت سـترګې پټې نه کړي چې د دۀ اقتصاد د پـــاکستـــان او افـغـانـسـتـــان سـره تړلے دے. دغـه حـقـيـقـت بـه پـاکستـان او افغانستان هم تر نظره سـاتي. تر څو چې د ترکمانستان تعلق دے نو هغه د استـقـلال او اقتِـدار آعلی اخستو نه سمدستي پس په سيمه کښې د ناپيلي هېواد په توګه دنيا ته څـان ورپېـژنـدلے دے او هيڅ چاسره رقـابت يـا تـربګـنـي نه لري. او درې واړه هېوادونو سره ئې د

برابرۍ په اساس ښه تعلقات دي.

کوم ګاونډي ملکونه چې يو بل سره ښې اړيکې ساتي د يو بل وړې وړې غلطۍ معاف کوي او يو بل سره په مختلفو شعبو کښې مرسته ملګرتيا کوي نو دغه ملکونه د ترقۍ مزل په تيزۍ سره کوي. اولس ئې خوشحاله او سوکاله وي. يورپي يونين او د امريکې او کينيډې تعلقات د دې تعلقاتو غټ مثالونه دي. که د افغانستان،پاکستان او هندوستان مشرانو خپلې سترګې وغوړولې او د خپلو ولسونو خوشحالي او سوکالي ئې په نظر کښې وساتله نو دوي د تاپي (TAPI) په شان نورو اقتصادي چارو کښې يو بل سره مرسته ملګرتيا کولے شي ځکه چې دا درې واړه هېوادونه يو شريک اقتصادي،سياسي، کلتوري او معاشرتي تاريخ لري. دغه تاريخ د دوي د خوشحالۍ او سوکالۍ بنياد جوړيدے شي.

# کراچۍ کښې د رينجرز مسئله

د سندهـ اسمبلۍ رينجرز ته کراچۍ کښې د پاتې کېدو موده نوره زياته کړه ولې د دې فورس په اختياراتو کښې ئې کمے راوستے دے. وفاقي حکومت او سندهـ اسمبلۍ کښې مخالفې ډلې د دې فيصلې په حق کښې نه دي. دغه وجه ده چې وفاقي حکومت د سندهـ اسمبلۍ دغه قرارداد رد کړو او په خپله خوښه ئې د رينجرز د اختياراتو په ځائې ساتلو او د دې کراچۍ کښې د پاتې کېدو موده تر ۲۰ ورځو د اوږدولو حکم جاري کړو.

د کراچۍ د امن و امان صورت حال د تېرو څو لسيزو راهسې خراب را روان دے. د خلقو نه په زور قلنګ اخستل،لوټ مار،سياسي او غير سياسي قتلونه او ترهګري د کراچۍ يو معمول جوړ شوے دے. د هيڅ چا سر او مال محفوظ نه دے. دا تورونه هم مسلسل لګېږي چې کراچۍ کښې ځينې سياسي ګوندونو عسکري ګروپونه جوړ کړي چې په مختلفو سياسي او معاشرتي جرمونو کښې ککړ دي. هر حساس زړۀ او په قام، وطن او اولس مئين خلق په دې حالاتو انتهائي فکر مند دي.

په داسې صورت حال کښې حالات معمول ته راوستو دپاره څه موده مخکښې د عوامي نيشنل پارټۍ سندهـ صدر سنيټر شاهي سيد مطالبه کړې وه چې سندهـ کښې دې فوځ راوبللے شي. ځيني سياسي قوتونو د دې مطالبې مخالفت وکړو ولې شاهي سيد د خپلې غوښتنې په ترځ کښې خپل وضاحت کښې ووئيل چې د دۀ ګوند مارشل لاء نه غواړي صرف فوځ د امن و امان قائمولو دپاره د انتظاميې د مدد دپاره راغوښتل غواړي. فوځ خو نېغ په نېغه کراچۍ ته رانه غلو ولې د وفاقي وزارت داخله د لاندې يو نيم عسکري فورس رينجرز د امن و امان قائمولو دپاره کراچۍ خپل ولقه کښې د سندهـ د حکومت په بلنه واخسته. رو رو دې فورس کراچۍ کښې پنجې خښول شروع کړل او د صوبائي حکومت په قول د خپلو اختياراتو نه ئې تجاوز کولو نه هم

ډېره ونه کړه. سندهـ حکومت ته دا شکایت هم دے چې د رینجرز ذمه واري صرف د ترهګرۍ، قلنګ اخستو او قتلونو مخنیوے کول دي د نورو جرمونو دپاره د مخکښې نه پولیس موجود دے. یاده دې وي چې رینجرز ته د پولیس اختیارات صوبائي حکومت ورکړي دي.

رینجرز کراچۍ کښې ۲ میاشتې تېرې کړې او د ځینې ناظرانو په خیال کراچۍ کښې تر کافي حده په ترهګرۍ او جرمونو قابو راوستو کښې بریالي شوي دي. خو که بنده د حقیقت په سترګو د سندهـ یا د پاکستان د نورو برخو د امن و امان حالت ته وګوري نو د ترهګرۍ، فرقه واریت، اولسي او معاشرتي جرمونو مخنیوے صرف د طاقت په ذریعه ممکن نه دے. کراچۍ کښې چې کومې مسئلې دي باید چې د دې مسئلو بنیادونه معلوم کړے شي او بیا د دې د حل لارې چارې ولټولے شي.

دې کښې هیڅ شک نشته چې رینجرز به تر کافي حده خپل مقصد کښې کامیابي موندې وي ولې دا کامیابي تر هغه وخته ده تر کومه چې رینجرز کراچۍ کښې موجود وي او دا ممکن نۀ ده چې رینجرز دې تر نامعلومه مودې کراچۍ کښې پاتې شي. که چرې دا وفاقي فورس کراچۍ کښې د خپلې پاتې کېدو موده ډېره زیاته کړي نو دا به هم بې اثره شي او د پولیس صورت به اختیار کړي. پولیس هم د پاکستان دے او رینجرز هم د پاکستان دے. فرق صرف دا دے چې رینجرز یو وفاقي فورس دے د وفاقي وزارت داخله لاندې کار کوي او دې کښې د مقامي اهل کارو په ځائې د ملک د مختلفو سیمو اهلکار خپل فرایض ادا کوي. د دې په مقابله کښې پولیس د صوبائي داخله محکمې د لاندې کار کوي او ټول اهلکار مقامي یا صوبائي دي. البته یو بل فرق پکښې دا دے چې د رینجرز افسران په ډیپوټیشن د فوځ نه د یو خاصې مودې دپاره راغوښتے شي.

دلته دا خبره هم د کولو ده چې د امن و امان قائمولو ټوله ذمه واري د صوبائي حکومت ده. هر صوبائي حکومت سره تجربه کار پولیس لکه د دنیا د نورو ملکونو په شان موجود دے او دغه پولیس د امن و امان قائمولو ذمه وار دے او که چرې حالات ډېر خراب شي نو دوي د وفاق نه مدد غوښتے شي. د سندهـ حکومت هم دغه کړي دي چې رینجرز ئې د وفاق نه غوښتے دے خو شاید چې د زړۀ نه ئې دا کار نه وي کړے. د ځینې قوتونو په دباؤ ئې کراچۍ کښې رینجرز رابللے او اختیارات ئې ورکړي دي. او اوس ئې د اختیاراتو کمولو فېصله کړې ده. او دا ئې صرف د ترهګرۍ، قتلونو، بهته خورۍ او فرقه ایز جرمونو پورې محدود کړي دي.

زما په خیال د امن و امان قایمولو ذمه واري د صوبائي حکومت ده. صوبائي حکومت چې څنګه بهتر ګڼي دا د صوبائي حکومت حق دے. که چرې صوبائي حکومت د آئین خلاف ورزي کوي نو د وفاقي حکومت دا اختیار دے چې

دغـه خـلاف ورزي پـه ګـوته کړي. د دې نه علاوه اعلی فاضل عدالتونه هم فېصله کولے شي.

امـن و امـان پـه ځـائې سـاتـل د صوبائي پـولـيـس آئيـني او قانوني ذمه واري ده که چرې د سـنـدهـ حـکومت د خپل پوليس په ذريعه دا ذمه واري سـرتـه رسـولے شـي نـو بـايد چې صوبائي حـکـومـت تـه مـوقعه ورکړے شي. خو که په دې مسـئـله د وفاقي او صوبائي حکومتونو ترمېنځه څـه قسـمـه تـاوتـريخوالے زيات شو نو دا د ملک دپاره ښه نۀ ده.

ځيـنې خـلق د رينجرز اختيارات کمول د صوبائي حکومت بدنيتي ګڼي او دا د پيپلز پارټۍ د يو ګرفتار کس ډاکټر عاصم حسين سره تړي چې تـر څـه حـده صحيح هم ښکاري. خو بيا هم آئين مقدم دے او د صوبائي خپلواکۍ ضمانت ورکوي. وفـاقـي حـکـومـت چې کوم قدم اخستے دے. دا د وفـاق او صوبې ترمېنځه د يوې جګړې سبب جوړ شـوے دے. کـه چـرې د سـندهـ حکومت او وفاقي حـکـومـت دواړه په رضا صلاح د کراچۍ مفاد او د خلقو د سر و مال حفاظت ته اوليت ورکړي نو دا به د دواړو ګټه وي.

## د سعودي عربستان په مشرۍ کښې فوځي اتحاد

د سـعـودي عـربسـتـان د دفاع وزير رياض کښې د ۳۴ مسـلـمـان مـلـکونو د يو فوځ اتحاد د جـوړولـو اعـلان کـړے دے چې د داعـش خلاف به جـنـګـېږي. پـاکسـتـان دې اتـحاد کښې د شاملېدو اعـلان کـړے دے. دا اعـلان د خارجه دفتر ترجمان وکړو.

پـه دنيـا کښې فوځي اتحادونه ډېر اهميت لـري او دغـه شان اتحادونو جوړولو دپاره متعلقه مـلـکـونـه پـه کـلونو کلونو خپلو کښې صلاح مشـورې کـوي او آخر د دې اتحاد دپاره يو طريقه کار او کړنلاره وټاکي. د صدر دفتر اعلان وشي. د اتـحـاد د کـار دائـره څـرګـنده شي خو دا اعلان د سـعـودي عـربسـتـان د دفـاع وزير په خپله خوښه وکړو او سـعـودي عـرب ئې د دې اتـحـاد مشر هم اعـلان کړو. لـکـه چې مسلمان ملکونه د سعودي عـرب د بـادشاهۍ غلام وي. د پاکستان جواب دې لړ کښې عـجيبـه دے. دلته هم داسې ښکاري لکه چې بـادشـاهـت دے نـه حـکـومـت دا ضـرورت مـحسـوس کړو چې اولسي رائې معلومه کړي. نه ئې دا اهـمـه مسـئـله پارليمنټ ته يوړه حتی چې وفـاقـي کـابيـنـه کښې هم په دې لا څه غور نه دے شوے.

فـوځي اتحاد کښې شامليدل څه اسان کار نه دے. د دې ډېر نقصانات او فوائد وي. بله دا چې د پـاکسـتـان غونډې لوئې زرعي او صنعتي ملک چې يـو طـاقـتـور فـوځ لرلو سره يواځينے مسلمان ايتـمـي طاقت دے څنګه د سعودي عربو غونډې د يـو وړوکـي او کـمزوري بادشاهت په قيادت کښې خپل فوځ استعمالولے شي.

پاکسـتـان د يو غيرتي قوم وطن دے. خپل

فوځ هم په خپل قيادت کښې د استعمالولو توان لري. که چرې د ميا محمد نوازشريف د خاندان د سعودي عربستان د شاهي خاندان سره خانداني تعلق وي نو د دې خپل ځائې دے خو د دې تعلق دپاره د پاکستان قوم او د پاکستان فوځ استعمالول د پاکستاني قوم بې عزتي ده. البته دې کښې څه شک نشته چې د سعودي عربستان سره د پاکستان نيزدې تعلقات دي او د پاکستان خلق د دې تعلقاتو په بنياد د سعودي عربستان احترام کوي ولې فوځي اتحاد د ډېر سوچ او غور په بنياد جوړول پکار دي. د دې قسمه اتحاد په لړ کښې بايد چې د پاکستان پارليمان کښې بحث وشي او د خلقو د نمائندګانو رائې معلومه شي. بله دا چې کوم مسلمان ملکونه د دې اتحاد نه بهر دي بايد چې هغوي سره هم رابطه وساتلے شي. د دې هم خيال ساتل ضروري دي چې هسې نه دا اتحاد د خپلو مقرره حدونو نه بهر شي او ممبر ملکونو ته مشکلات جوړ کړي. د پاکستان حکومت بايد چې په خپله فېصله نظرثاني وکړي او خپل سيمه ايز حالات هم تر نظره وساتي.

## ټيکسونو کښې اضافه

خبر دے چې وفاقي حکومت د پارليمان د منظورۍ نه بغېر ځينې نوي ټيکسونه لګولي او يا ئې د موجوده ټيکسونو په شرح کښې اضافه کړې ده. د دې په نتيجه کښې د ځينې څيزونو په قيمتونو کښې زياتوالے شوے دے. روايات او آئيني تقاضا دا ده چې هر کال پارليمنټ او صوبائي اسمبليانې د بجټ منظوري ورکوي. په دې بجټ کښې د حکومت د امدن او اخراجاتو تخمينه وي او د امدن ذريعې او د خرڅ ځايونه پکښې په ګوته شوې وي. د امدن غټه ذريعه مختلف قسمه ټيکسونه وي. کوم حکومت چې په بجټ پوره پوره عمل ونه کړے شي نو دا يوه ضعيفه او کمزورې کارکردګي ګڼلے شي. کوم حکومت چې د کليزه بجټ سره د کال په مېنځ يا څه برخه کښې بجټ کښې بدلون راولي دا هم د نااهليت يوه نخښه ده. او بيا په تېره تېره ټيکسونو کښې اضافه يا نوے ټيکس لګول خو د حکومت انتهائي کمزوري او نااهليت دے. که چرې د کال په مېنځ کښې د نوي ټيکس د لګولو دپاره پارليمان ته کيس راوړلے شي نو دا هم يوه حکومتي او انتظامي کمزوري ده او بيا چې د پارليمان د خبرولو نه بغېر حکومت زياتي ټيکس ولګوي نو دا يو سنګينه بې قاعدګي ده.

حکومت دا خيال لري چې ټيکس کښې اضافه کولو دپاره د پارليمان نه منظوري ضروري نه ده. دا خيال بېخي نامناسبه او د جمهوري رواياتو خلاف دے ځکه چې ټيکس لګولو دپاره د پارليمان نه منظوري بنيادي ضرورت دے. که چرې د پاکستان موجوده آئين د دې اجازت ورکوي نو د آئين دغه دفعات غير جمهوري دي بايد چې د دې دفعاتو د حزف کولو دپاره آئين کښې ترميم وکړے شي ځکه چې د کال ۱۹۲۲ غونډې آمرانه آئين هم حکومت ته دا اختيار نۀ ؤ ورکړے چې د قومي اسمبلۍ يا د صوبائي اسمبلو د منظورۍ نه بغېر په خلقو څه قسمه ټيکس ولګوي.

ټیکس لګول،زیاتول،ختمول یا کمول د بجټ سره تعلق لري. باید چې د کلیزه بجټ نه پس بغېر د څه هنګامي صورت حال نه هیڅ قسمه ټیکس لګولو یا زیاتولو باندې سخت آئیني بندیز ولګولے شي. د هنګامي حالت د نفاذ هم آئین کښې طریقه کار موجود دے. داسې ښکاري چې آئین حکمرانانو د پښتو د لاندې کړے دے او حکومت که د وفاق دے او که د صوبو د حکمرانانو د ذاتي خواهشاتو په بنیاد چلولے شي.

## په غنمو سود

خبر دے چې د خیبرپښتونخوا حکومت به پاکستان ایګریکلچر سټوریج اینډ سروسز کارپوریشن (PASSCO) ته د غنمو قیمت د څو چنده سود سره ادا کوي. وائي چې د خیبرپښتونخوا د خوراک د محکمې یو افسر د یو اجلاس دوران کښې د پاسکو افسرانو ته دا یقین ورکړے دے چې صوبائي حکومت به دا سود ارو مرو ادا کوي.

پاسکو(PASSCO) صوبائي حکومتونو ته هغه اجناس ورکوي کوم چې د دوي په ګودامونو کښې خوندي وي. پاسکو وریژې،غنم او دالونه وغېره په آزاد بازار کښې اخلي او بیا ئې صوبائي حکومتونو ته ورکوي. صوبائي حکومتونه دا خوراکي مواد عامو خلقو باندې خرڅولو دپاره بازار ته راوباسي. کوم ذکر شوي غنم چې صوبائي حکومت د پاسکو نه اخستي وو داسې ښکاري چې دا ئې په قرضې اخستي وو. خو سوال دا پېدا کېږي چې دا غنم صوبائي حکومت په قرض ولې اخستي وو؟ او که په قرض ئې اخستي هم وو نو په سود ئې ولې اخستي وو؟ ځکه چې غنم اخستل څه ترقیاتي منصوبه نۀ وه. غنم خو صوبائي حکومت د اوړو په ملونو خرڅوي او ملونه بیا اوړۀ په خلقو خرڅوي. او دا ټوله ورکړه راکړه په قرض نه بلکې په نغدو کېږي. اوس د صوبائي حکومت نه دا پوښتنه ده چې دوي خو غنم په ملونو په نغدو خرڅ کړي دي نو دا رقم ئې پاسکو (PASSCO) نه په وخت ولې نه دے ادا کړے چې اوس ترې پاسکو سود غواړي.

صوبائي حکومت به د سود دا رقم د کوم ځائې نه ورکوي؟ ظاهره ده چې د قومي خزانې نه. نو صوبائي حکومت ته دا اختیار چا ورکړے دے. چې د سود رقم دې بغېر د څه وجې د صوبائي خزانې نه ادا کړي؟ دا مسئله صوبائي اسمبلۍ ته ولې نه ده راوړے شوې؟ د صوبائي اسمبلۍ نه هم دا سوال کېدے شي چې دوي د دې خبر په رڼا کښې د متعلقه وزیر نه ولې پوښتنه نه کوي؟ بله دا چې د صوبائي اسمبلۍ د منظورۍ نه بغېر حکومت څنګه یو وفاقي تجارتي ادارې ته اضافي رقم ادا کوي؟ حکومتي ادارې چې کومه غلطي وکړي نو د هغې غلطۍ بوج په صوبائي خزانه ولې اچولے کېږي؟ ځکه چې دا خزانه د خلقو امانت دے. باید چې د خوراک د محکمې او صوبائي حکومت نه دا تپوس وشي چې دوي د دومره بې پرواهۍ او کوتاهۍ مظاهره ولې کړې ده؟ دې لړ کښې باید چې د ذمه وارو افسرانو خلاف کاروائي وشي. خو د ټولو نه زیاته ذمه واري په صوبائي اسمبلۍ پریوځي که اسمبلۍ خپله ذمه واري پوره نه کړه نو دا به د آئین خلاف ورزي او یوه غټه اخلاقي او سیاسي بد دیانتي وي.

# نریندر مودي په لاهور کښې
# او
# جنرال راحیل شریف کابل کښې

په ۲۵ دسمبر د هند وزیراعظم د ماسکو د سفر او کابل کښې د پارلیمان د نوي عمارت د پرانستې نه پس د نوي ډيلي په ځائې بغير د څه ټاکلي پروګرام نه لاهور کښې کوز شو او نېغ د وزیراعظم میا محمد نوازشریف په بدرګه کښې د هغه کور ته لاړو چرته چې د میا صيب د کورنۍ ټول غړي د يو خانداني دستورې په لړ کښې موجود وو. د دې دورې نغاره ټوله دنيا کښې ځکه اوغږېده چې دا د هند د وزیراعظم پاکستان ته یولس کاله پس راتګ ؤ. دواړه مشران خپلو کښې يوه ګېنټه کيناستل او يوه ګېنټه ئې د هوائي ډګر نه تر کوره او د کور نه تر هوائي ډګر پوره لاره خبرې وکړې. په دې لحاظ دا يو اوږد ملاقات ؤ چې پکښې د دواړو هېوادونو په تعلقاتو خبرې وشوې. پاکستان کښې د ملاقات هرکلے وشو ولې هند کښې سياسي قوتونو په خپل وزیراعظم نریندر مودي سختې نيوکې وکړې. داسې بريښي چې د هند او پاکستان ترمېنځه د ښو تعلقاتو په لاره کښې غټ خنډ د هند خلق دي. او هندي سياسي ګوندونه مجبور دي چې د خپلو خلقو د خواهشاتو خيال وساتي. نو ځکه نریندر مودي ته به دا ګرانه وي چې د پاکستان سره په متنازعه چارو د مذاکراتو دپاره تيار شي. ولې بل طرف ته داسې بريښي چې نړې وال او سيمه ايز حالات دا تقاضا کوي چې پاکستان او هند دې خپلې ټولې شخړې د خبرو اترو د لارې هوارې کړي. که چرې نریندر مودي دې کښې کامياب شو چې پاکستان سره خپلې اړيکې دومره په مخ بوځي چې هغه بنيادونه ختم شي چې په کومو بنيادونو د هند خلق د مودي په لاره کښې خنډان اچوي. نو دا به د سيمې خوش بختي وي.

دې کښې هيڅ شک نشته چې د هند او پاکستان ترمېنځه دښمني او ترېګني يو اوږد تاريخ لري. او د کومو شخړو په اساس چې دغه دښمني راروانه ده دا شخړې هوارول د څو ورځو کار نه دے. دې دپاره به په سوچ او فکر کښې مثبت بدلون راوستل وي. د پاکستان د نورو سياسي مشرانو او ګوندونو په شان د عوامي نيشنل پارټۍ صدر اسفنديارولي خان د نریندر مودي راتلل او د ميا نوازشريف سره اوږدې خبرې ستائيلي دي. اسفنديارولي خان د خپل بيان په دوران کښې ووئيل چې د پاکستان،افغانستان او هندوستان د مشرانو خپلو کښې رابطې به د سيمې د کروړونو خلقو مستقبل روښانه کړي.

د اسفنديارولي خان بيان دې لړ کښې څه نوے نۀ دے ځکه چې د دۀ ګوند د وخت د سره هم دغه دريځ لري چې سيمه کښې د امن او قراري راوستو دپاره د متعلقه ذکر شوو هېوادونو ترمېنځه د دوستۍ او ورورولۍ تعلقات جوړول ضروري دي او دې غرض دپاره د مذاکراتو نه بغير بله څه موزون لاره نشته. البته د ملک نورو سياسي ګوندونو چې د نریندر مودي دوره او د پاکستان د وزيراعظم سره ملاقات د کومې جذبې لاندې ستائيلي دي دا د ستائينې وړ او د يو ښه بدلون اشاره ده. داسې ښکاري چې د نوازشريف

په شا ټول هغه قوتونه هم ولاړ دي څوک چې دې لړ کښې کردار ادا کولے شي.

هيله ده چې د نريندر مودي پاکستان ته راتګ به نورې ګټورې نتيجې ورکړي او د خبرو اترو سلسله به شروع شي خو د ټولو کشالو هوارے تر هغې ممکن نۀ دے تر څو چې د دواړو هېوادونو د مشرانو ذهنونو کښې يو بدلون رانه شي. او هغه بدلون دا دے چې هر څه چې وي دواړه به په امن او صلح د ښه ګاونډي توب مظاهره کوي او د يو بل سره به د ترقۍ په لاره کښې مرسته ملګرتيا هم کوي. تور ماضي به دفن کوي او روښانه ماضي باندې به خپل حال او مستقبل روښانه کوي. د نوي دور د تقاضو رڼا کښې به د خپلو خلقو د خېرښېګړې دپاره خپل ټول وسايل په کار راولي.

د نريندر مودي د لاهور د سفر نه دوه ورځې پس په ۲۷ دسمبر د پاکستان د فوځ سرلښکر جنرال راحيل شريف د ټاکلي پروګرام مطابق کابل ته لاړو هلته ئې د ټولو لوړرتبه سياسي او عسکري مشرانو سره ليدۀ کاته وکړل او د دواړو هېوادونو ترمېنځه په تعلقاتو ئې نه صرف خبرې وکړې بلکې دواړو دا فېصله وکړه چې د افغانستان حکومت به هغه مخالفو جنګيالو سره خبرې کوي څوک چې په امن اوسېدل غواړي او دواړه هېوادونه به د هغه جنګيالو خلاف کاروائي کوي څوک چې د امن عمل کښې ګډون نه کوي. دواړو غاړو په دې خبره هم اتفاق وکړو چې په پوله د خلقو تګ راتګ کښې به نظم پېدا کولے شي. يو بل سره به د ترهګرۍ خلاف د اطلاعاتو تبادله کوي.

د جنرل راحيل شريف د کابل دوره څه وړه خبره نۀ ده. دې ته ډېر اهميت حاصل دے. ځکه چې نن چې دواړه ملکونو کښې کوم منفي حالات دي دا خپلو کښې تړلي دي. که چرې دواړه هېوادونه په شريکه د دې حالاتو د بدلولو دپاره قدمونه وانخلي نو په يواځې يو هېواد هم بريالے کېدے نه شي.

دلته دا خبره هم د کولو ده چې د جنرل راحيل شريف دورې ته زيات تقويت او قوت اسلام آباد کښې شوي هارټ آف ايشياء کانفرنس او د پاکستان، چين،امريکې او افغانستان څلور فريقه غونډې هم ورکړے دے. د څلورو ذکر شوو ملکونو يو بل کانفرنس به جنورۍ کښې کېږي چې د افغانستان د امن دپاره به نورې لارې چارې هم لټوي او يوه نوې اثرناکه کړن لاره به هم ټاکي. څلورو ذکر شوو ملکونو کښې د چين کردار ډېر اهم او جوت دے ځکه چې چين د څه مودې راهسې د افغانستان حالاتو او دې سره تړلي چارو کښې خصوصي دلچسپي لري. د چين دغه کردار که دوام ومونده نو د دې ډېرې ګټورې او زړۀ پورې نتيجې راوتے شي.

د چين د دلچسپۍ او پام لرنې ډېر وجوهات دي خو يوه غټه وجه ئې دا ده چې د افغانستان د حالاتو په ټوله سيمه اثرات دي او چين د سيمې يو اهم ملک دے. که چرې چين دې لړ کښې مثبت کردار ادا نۀ کړي نو دا به د چين ډېره بې غوري وي چې چين ته ترې نقصان رسېدے شي.

☆☆☆